# د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

## د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**

**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۱۰/ ربيع الأول /۱۴۴۶/ هـ، ق مطابق ۲۳/ سنبله /۱۴۰۳/هـ، ش**

# د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نیکمرغه میلاد

إن الحمد لله، نحمده، ونستعينه، ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا وسيئات أعمالنا، من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له. وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله، بعثه الله تعالى بين يدي الساعة بشيراً ونذيرا، وداعيًا إلى الله بإذنه وسراجًا منيراً، فبلَّغ الرسالة، وأدى الأمانة، ونصح الأمة، وجاهد في الله حق جهاده حتى أتاه اليقين، ووفق الله من شاء من عباده فاستجاب لدعوته، واهتدى بهديه، وخذل الله بحكمته من شاء من عباده فاستكبر عن طاعته، وكذب خبره، وعاند أمره، فباء بالخسران والضلال البعيد، أما بعد: قال الله سبحانه وتعالى:(وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ).الأنبياء: (۱۰۷)

**درنو او عزتمنو مسلمانانو !**

نن ورځ مونږ د هغه چا د نیکمرغه میلاد خبره کوو چې هدایت یې راوړی دی، او ګردې نړۍ ته یې د رب العالمین پیاغم راوړی دی، نن مونږ د هغه عظیم شخصیت یادونه کوو چې بشریت یې د جهالت له تورو تیاریو څخه را وویسته او خلک یې دکانو، بوټو ، لرګیو او د بندګانو له بندګۍ راوویستل او دالله تعالی بندګۍ ته یی را دعوت کړل، نن مونږ د هغه چا د پیدایش خبره کوو چې په ټولو پیغمبرانو کې الله تعالی غوره او افضله پیداکړی دی، هغه څوک چې په تیرو کتابونو کې په نیکو صفاتو ستایل شوی دی، چې حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دی.
او دا هغه میاشت ده په کومه میاشت کې ددواړو جهانونو سردار پیداشوی دی ، دا هغه میاشت ده په کومه میاشت کې چې سیدالعالمین او سید البشر پیداشوی دی، دا هغه میاشت ده چې په دې میاشت کې د مسلمانانو پیغمبر نړۍ ته راغلی دی.
په دې میاشت کې خاتم النبیین محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم دنیا ته سترګې وغړولی.

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیدایش نیته:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم د ربیع الأول د میاشتې په دولسم تاریخ، د دوشنبې په ورځ چې دعام الفیل سره برابر دی په مکه مکرمه کې په شِعَب ابو طالب کې د آمنې بي بي په کور کې چې اوس په هغه ځای کې کتابخانه آباده شوی ده پیداشوی دی، چې دا تاریخ د آپریل دمیاشتې د شلم یا دویشتم د (۵۷۱) میلادي سره سمون خوري.
رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل پیدایش د ورځې په اړه فرمایلي دي:(ذَلِكَ يَومٌ وُلِدْتُ فِيهِ،وَيَومٌ بُعِثْتُ،أَوْ أُنْزِلَ عَلَيَّ فِيهِ ) رواه مسلم .

ترجمه:- (دوشنبه) هغه ورځ ده چې زه په کې پیدا شوی یم او په همدې ورځ په پیغمبرۍ مبعوث شوی یم یا یې داسې وفرمایل چې په دغه ورځ پر ما وحی نازل شوی ده.

رسول اکرم صلي الله علیه وسلم چې کله پیدا شو، د هغه نیکه ورلره نوم محمد(صلی الله علیه وسلم) کیښود، مؤرخین لیکي چې ددې نوم د غوره کولو لامل دا ؤ چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نیکه عبدالمطلب خوب ولیده چې دده له ملا څخه د سپینو زرو زنځیر راووتلو چې یو طرف یي په آسمان کې ؤ او بل طرف یې په ځمکه کې ؤ ، بل طرف یې په مشرق کې ؤ او بل طرف یې په مغرب کې ؤ ، بیا یي وکتل چې دا ونه وګرځیدله چې په هره پاڼه کې یې روشنایي وه او د مشرق او مغرب خلک ور پورې ځانونه ځوړندوي.

دده د خوب تعبیر د هغه وخت عالمانو داسې وکړ چې د عبدالمطلب په کور کې به داسې ماشوم پیداکیږي چې دمشرق او مغرب ټول خلک به یي متابعت کوي او د آسمان مخلوق به یې هم په حمد سره ستایي او د ځمکې خلک به یي هم په حمد سره ستایي؛ نو کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پیدا شو عبدالمطلب ورباندې محمد(صلی الله علیه وسله) نوم کیښوده . په عربو کې مخکې چا داسې نوم نه ؤ ایښی ، خلکو عبدالمطلب ته وویل چې دادې ځرنګه نوم په لمسي کیښوده؟ هغه ورته وویل: دانوم مې ددې لپاره په خپل لمسي کیښود ترڅو دآسمانونو او ځمکې مخلوق یې صفت او ستاینه وکړي او په آسمان کې هم محمد(ستایل شوی) وي او په ځمکه کې هم محمد(ستایل شوی) وي. عیون الأثر (۱/ ۸۸)

د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم څخه مخکې څلورو کسانو په خپلو زامنو د محمد نوم ایښی ؤ او هغه په دې اساس چې ددغو کسانو پلرونو داهل کتابو له یو عالم پاچاڅخه اوریدلي ؤ چې یو پیغمبر به پیداکیږي چې د هغه نوم به محمد وي ، نو دوی هریو نذز نیولی ؤ چې که چیرې ځوی یې پیدا شو نو پر هغه به محمد نوم ږدي. الروض الأنف للسهيلي (۱/ ۲۷٦)

په حدیث شریف کې راځي چې کله نبي علیه السلام پیدا شو د بي بي آمنې له جسم څخه داسې روشنایي راووتله چې د شام قصرونه یي رڼا کړل. «عَنْ عِرْبَاضِ بْنِ سَارِيَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ وَخَاتَمُ النَّبِيِّينَ فَذَكَرَ مِثْلَهُ وَزَادَ فِيهِ إِنَّ أُمَّ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَأَتْ حِينَ وَضَعَتْهُ نُورًا أَضَاءَتْ مِنْهُ قُصُورُ الشَّامِ». مسند أحمد (۲۸/ ۳۸۲)

ترجمه:- د عرباض بن ساریه رضی الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل: زه دالله تعالی بنده یم او خاتم النبیین یم او په دې کې داسې هم ور زیات کړل : بیشکه د نبي علیه السلام مور بي بي (آمنه) چې کله نبي علیه السلام وزیږولو، وه یې لیدله یوه روښنایي چې د هغې څخه د شام قصرونه روښانه شول.

په کومه شپه چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پیدا شو؛ نو د کسری ماڼۍ ولړزیده او دولس برجونه یی راولویدل او د فارسیانو په آتشکده کې اور مړ شو چې له زرو کلونو څخه بلیده او د ساوه په نوم بحیره وچه شوه چې د عراق به بحیرو څخه شماریدله او په دې سره کسری زیات وارخطا شو.خلاصة سير سيد البشر لمحب الطبري(ص: ۲۵)

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له پیدایش څخه مخکې د هغه پلار عبدالله وفات شوی ؤ.

رسول اکرم صلی الله علیه وسلم لا وړوکی ؤ چې حلیمې سعدیې د بني سعد قبیلې ته د شیدو ورکولو او د ښه صحت په موخه له ځانه سره یوړ. په بني سعد کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم شق الصدر (د سینې خیرېدل) هم شوی دی.

کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم اته کلن شو د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نیکه عبدالمطلب وفات شو او د نبي علیه السلام سرپرستي د هغه تره ابو طالب په غاړه واخیسته.کله چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم دولس کلن شو، تره یې ابوطالب له ځانه سره د شام په تجارتي سفر بوتللو چې دا هم د هغه دحفاظت وړاندوینه کوي.

رسول اکرم صلي الله علیه وسلم پنځه ویشت کلن ؤ چې د خدیجة الکبری رضی الله عنها سره یی نکاح وکړه.
رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په څلویښت کلنی کې په پیغمبری مبعوث شو.

## د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خِلقتي صفاتو بیان:

الله جل جلاله رسول الله صلی الله علیه وسلم سیرةً او صورةً کامل او ښایسته پیدا کړی ؤ. د نبي علیـه السلام د جمالي صفاتو بیان به د صحابه کرامو څخه واورو.

**لومړی:** دسول الله صلی الله علیه وسلم ښکلي مبارکي څېرې صفت دانس بن مالک رضي الله عنه په ژبه:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّهُ سَمِعَهُ يَقُولُ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَيْسَ بِالطَّوِيلِ الْبَائِنِ، وَلَا بِالْقَصِيرِ، وَلَا بِالْأَبْيَضِ الْأَمْهَقِ، وَلَا بِالْآدَمِ، وَلَا بِالْجَعْدِ الْقَطَطِ، وَلَا بِالسَّبِطِ، بَعَثَهُ اللَّـهُ تَعَـالَى عَـلَى رَأْسِ أَرْبَعِـينَ سَـنَةً، فَأَقَـامَ بِمَكَّـةَ عَشْرَ سِـنِينَ، وَبِالْمَدِينَةِ عَشْرَ سِنِينَ، وَتَوَفَّاهُ اللَّهُ تَعَالَى عَلَى رَأْسِ سِتِّينَ سَنَةً، وَلَيْسَ فِي رَأْسِهِ وَلِحْيَتِهِ عِشْرُونَ شَعْرَةً بَيْضَاءَ». الشمائل المحمدية للترمذي ط المكتبة التجارية (ص: ٢٨)

ترجمه:- رسول الله صلی الله علیه وسلم نه ډېر لوړ ؤ او نه ډېر لنډ او ټیټ او نه له حده زیات سپین او نـه هـم ډېـر تـور رنګی او وېښته یې نه ډېر ګونځې ګونځې ؤ او نه ډېر ښوی، په څلویښت کلنی کې الله پاک پیغمبر کړ، لس کالـه یـې پـه مکه مکرمه کې تېر کړل او لس کاله یې په مدینه منوره کې او په درې شپېته کلنی کې الله پاک وفات کړ او د هغه مبـارک په سر او ږیره مبارکه کې له شلو زیات ویښتان لا سپین شوي نه وو.

امام نووي رحمه الله وايي:رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو او دهغه عمر (٦٣)درې شپېته کاله ؤ او ویل کیـږي چې (٦٥)پنځه شپېته کاله ؤ او داسې هم ویل کیږي چې (٦٠)شپېته کاله ؤ مګر لومړی قول ډېر صحیح تر او مشهور دی او دا درې واړه روایتونه به صحیح بخاري کې راغلي دي.

**دوهم:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ښکلې مبارکې څېرې صفت د علي رضي الله عنه په ژبه:

عَنْ عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ قَالَ: «لَمْ يَكُنِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِالطَّوِيـلِ وَلَا بِالْقَصِيرِ، شَـثْنُ الْكَفَّـيْنِ وَالْقَـدَمَيْنِ، ضَـخْمُ الرَّأْسِ، ضَخْمُ الْكَرَادِيسِ، طَوِيلُ الْمَسْرُبَةِ، إِذَا مَشَى تَكَفَّأَ تَكَفُّؤًا كَأَنَّمَا يَنْحَطُّ مِنْ صَبَبٍ، لَمْ أَرَ قَبْلَهُ وَلَا بَعْدَهُ مِثْلَهُ- صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ-» . الشمائل المحمدية للترمذي ط المكتبة التجارية (ص: ٣١)

ترجمه:- له علي کرم الله وجهه نه روایت دی، دی وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه له حده زیات لـوړ ؤ اونـه له قده ډېر لنډ او ټیټ ؤ. په مناسبه توګه یې غټ ورغوي اوقدمونه یې درلودل، د مبارک سر کوپړۍ یې (په مناسبه توګـه) غټه وه، د هډوکو بندونه یې غټ وو، د مبارکې سینې په منځ کې یې اوږده لیکه ویښتان درلودل،کله بـه یـې چـې پـه لاره تګ کاوه، نو پوره پوره قدمونه به یې پورته کول، لکه له بره چې سړی ښکته طرف ته راکوزېږي، ما د هغه پـه څېـر ښـکلی شخص نه مخکې لیدلی او نه له هغه صلی الله علیه وسلم څخه وروسته.

**دریم:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښکلې مبارکه څېره دبراء بن عازب په ژبه:

عَنْ أَبِي إِسْحَاقَ قَالَ: سَأَلَ رَجُلٌ الْبَرَاءَ بْنَ عَازِبٍ: أَكَانَ وَجْهُ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِثْلَ السَّيْفِ؟ قَالَ: «لَا، بَلْ مِثْلَ الْقَمَرِ» الشمائل المحمدية للترمذي ط المكتبة التجارية (ص: ٣٩)

ترجمه:- یو سړي دبراء بن عازب رضي الله عنه څخه وپوښتل: آیا د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارک مخ د توري پـه څېر ښایښته ؤ، بیایې وویل نه بلکې دسپوږمۍ په څېر ښکلی ؤ.

په یو بل روایت کې وایي: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رَجُلًا مَرْبُوعًا بَعِيـدَ مَـا بَـيْنَ الْمَنْكِبَـيْنِ، عَظِـيمَ الْجُمَّـةِ إِلَى شَحْمَةِ أُذُنَيْهِ الْيُسْرَى، عَلَيْهِ حُلَّةٌ حَمْرَاءُ، مَا رَأَيْتُ شَيْئًا قَـطُّ أَحْسَـنَ مِنْـهُ» الشـمائل المحمديـة للترمـذي ط المكتبـة التجاريـة (ص: ٣٠)

ترجمه:- رسول الله صلی الله علیه وسلم: میانه قدی لوړوالي ته مائل شخص ؤ د اوږو په منځ کې یې پراخوالی درلود، د سر مبارک ویښتان یې ګڼ وو، د غوږونو تر نرمیو پورې رسېدل، په تن باندې داسې جامې درلودې چې سرې لیکې یې درلودې، ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه بل کوم شی ښکلې نه دی لیدلی.

**څلورم:** درسول الله صلی الله علیه وسلم صفت د ابوهریرة رضي الله عنه په ژبه:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَبْيَضَ كَأَنَّمَا صِيغَ مِنْ فِضَّةٍ، رَجِلَ الشَّعْرِ». الشمائل المحمدية للترمذي

ترجمه:- له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روایت دی ، دی وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تک سپین رنګ در لوده لکه له سپینو زرو څخه چې جوړ شوي وي، د سر مبارک ویښتان یې زیګه وو.

**پنځم:** درسول الله صلی الله علیه وسلم صفت دابن عباس رضي الله عنهما په ژبه:

عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَفْلَجَ الثَّنِيَّتَيْنِ، إِذَا تَكَلَّمَ رُئِيَ كَالنُّورِ يَخْرُجُ مِنْ بَيْنِ ثَنَايَاهُ» الشمائل المحمدية

ترجمه:- درسول الله صلی الله علیه وسلم مخامخ غاښونه سره لږ اندازه ازاد وه اوکله به یې چې خبرې کولې تا به ویل چې نور یې له غاښونو څخه را بهر کېږي.

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم د غوره اخلاقو بیان:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د غوره اخلاقو مثالونه دومره زیات دي چې کتابونه ور باندې ډک دي چې یوڅو یې په لاندې ډول دي :

### ۱- د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم سخاوت او کرم:

نبي کریم صلی الله د ټول جهان له انسانانو څخه زیات سخي ذات ؤ. په حدیث شریف کې راځی:(عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدَ النَّاسِ وَكَانَ أَجْوَدُ مَا يَكُونُ فِي رَمَضَانَ حِينَ يَلْقَاهُ جِبْرِيلُ وَكَانَ يَلْقَاهُ فِي كُلِّ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ فَيُدَارِسُهُ الْقُرْآنَ فَلَرَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَجْوَدُ بِالْخَيْرِ مِنْ الرِّيحِ الْمُرْسَلَةِ).صحيح البخاري (١/ ٧)

ترجمه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم تر ټولو خلکو زیات سخي ؤ او زیات سخي به په رمضان کې ؤ کله به چې جبرائل علیه السلام ورسره ملاقات کولو او جبرائیل علیه السلام به ورسره ملاقات کولو په هره شپه د رمضان کې چې له هغه سره به یی تکرارولو قرآن کریم ، نو خامخا رسول الله صلی الله علیه وسلم په نیکی کی له تیز باد څخه زیات سخي ؤ.

په یو بل روایت کې راځي:( جَاءَتْ امْرَأَةٌ بِبُرْدَةٍ ...قَالَتْ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنِّي نَسَجْتُ هَذِهِ بِيَدِي أَكْسُوكَهَا فَأَخَذَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُحْتَاجًا إِلَيْهَا فَخَرَجَ إِلَيْنَا وَإِنَّهَا لَإِزَارُهُ فَجَسَّهَا رَجُلٌ مِنْ الْقَوْمِ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ اكْسُنِيهَا قَالَ نَعَمْ فَجَلَسَ مَا شَاءَ اللَّهُ فِي الْمَجْلِسِ ثُمَّ رَجَعَ فَطَوَاهَا ثُمَّ أَرْسَلَ بِهَا إِلَيْهِ فَقَالَ لَهُ الْقَوْمُ مَا أَحْسَنْتَ سَأَلْتَهَا إِيَّاهُ وَقَدْ عَرَفْتَ أَنَّهُ لَا يَرُدُّ سَائِلًا فَقَالَ الرَّجُلُ وَاللَّهِ مَا سَأَلْتُهَا إِلَّا لِتَكُونَ كَفَنِي يَوْمَ أَمُوتُ). صحيح البخاري ت (١٤/ ٤٩١)

ترجمه:- یوه ښځه راغله د یوې چپنې سره او وه یې ویل ای د الله رسوله! دا چپنه ما ګنډلې ده په خپلو لاسونو او زه یې تاته در اغوندم؛ نبي علیه السلام هغه چپنه واخیستله په داسې حال چې ورته یې ضرورت ؤ او راووتلو مونږ او هغه چپنه د هغه لنګ ؤ ، نو لمس کړه یو سړي د قوم څخه بیایې وویل : ماته واغونده ای د الله رسوله! نبي علیه السلام ورته وویل: سمه ده. یو څه وخت نبي علیه السلام کیناست په مجلس کې بیا کورته ستون شو بیایې هغه چپنه دغه سړي ته راولیږله. قوم دغه سړي ته وویل: ښه کار دې ونه کړ چې دا چپن دې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه وغوښتله

او ته پوهيږې چې هغه سوال کوونکی نه رد کوي يعنې سوال يي مني، نو هغه سړي وويل: قسم په الله چې ما نه ده غوښتې مګر ددې لپاره مې غوښتې ده چې زما کفن شي په هغه ورځ چې زه مړ کيږم.

**۲- د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم تواضع او خلکو سره نږديوالی:**

کوم صفات او اخلاق چې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم ته الله ورکړي ؤ ، په دنيا کې داسې اخلاق هيچا نه درلودل چې د هغې له جملې څخه د نبي علیه السلام تواضع ده او د خلکو سره نږديوالی دی. سره ددې چې الله تعالی په ټولو پيغمبرانو کې غوره او افضله پيغمبر پيدا کړی ؤ خو بيا به هم هغه ويلې:(أنا سيد ولد آدم يوم القيامة ولا فخر وبيدى لواء الحمد ولا فخر وما من نبى يومئذ آدم فمن سواه إلا تحت لوائى) أحمد ، والترمذى

ترجمه:- زه به غوره يم د ادم د اولادې څخه د قيامت په ورځ او فخر نه کوم او زما په لاس کې به د حمد بيرغ وي او فخر نه کوم او په دغه ورځ به هيڅ نبي نه وي آدم عليه السلام او نور مګر زما دبيرغ لاندې به وي.

په يو بل حديث کې راځي: (وَأَنَا أَكْرَمُ وَلَدِ آدَمَ عَلَى رَبِّيَ وَلاَ فَخْرَ) سنن الترمذي

ترجمه:- او زه د آدم د اولادې څخه په خپل رب باندې تر ټولو زيات قدر من او ګران يم او فخر نه کوم.

په يو حديث شريف کې راځي: په يو حديث شريف کې راځي: (عَنْ أنسٍ أَنَّ امْرَأَةً كانَ في عَقْلِهَا شَيْءٌ، فقالتْ: يا رسولَ اللهِ إنَّ لي إليكَ حَاجَةً، فقالَ صلَّى اللهُ عليهِ وسلَّمَ: يا أُمَّ فُلانٍ انْظُرِي أَيَّ السِّكَكِ شِئْتِ، حتَّى أَقْضِيَ لَكِ حاجتكِ ، فَخَلا - أي وَقَفَ - مَعَهَا في بعضِ الطُّرُقِ، حتَّى فَرَغَتْ مِنْ حَاجَتِهَا) رواه مسلم.

ترجمه:- دانس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه فرمايي بيشکه يوه ښځه وه چې په عقل کې يې يو څه کمزوري وه، هغه ښځې وويل: ای دالله رسوله! زما تاته يو حاجت دی، پيغمبرعليه السلام ورته وويل: ای ام فلان! وګوره په هره کوڅه کې چې ستا خوښه وي درسره دريږم؛ ترڅو ستا ضرورت درته پوره کړم، بيا پيغمبرعليه السلام ورسره ودريده په ځينو لارو کې؛ ترڅو چې هغه ښځه د خپل حاجت څخه خلاصه شوه.

**۳- د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم شفقت او مهرباني په خپل امت باندې:**

د الله تعالی په فضل او رحمت سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم پر خپل امت باندې ډېر زيات مشفق او مهربانه ؤ لکه چې الله تعالی فرمايلي دي: {لَقَدْ جاءَكُمْ رَسُولٌ مِنْ أَنْفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ ما عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُمْ بِالْمُؤْمِنِينَ رَؤُفٌ رَحِيمٌ} التوبة: (۱۲۸)

ترجمه:- خامخا په تحقيق راغلی دی تاسې ته يو رسول له جنسه ستاسې چې ډيرسخت درووند دی په ده باندې هغه کار چې تاسې تکليف مومی ډېر حرصناک دی په تاسې خاص پر مؤمنينو باندې نهايت شفيق ډېر مهربان دی.

په دې سورت کې الله تعالی د رسول الله صلی الله علیه وسلم پنځه صفتونه بيان کړي دي: ۱-داسې رسول دی چې ستاسو دانسانانو له جملې څخه دی.۲-ستاسو په تکليف او غم خپه کيږي.۳-ستاسو ددنيا او آخرت په خير باندې حريص دی.۴، ۵- په مؤمنانو زړه سواندې دی او په عامو خلکو مهربانه دی.[تفسير کبير]

په يو حديث شريف کې راځی: عن أَبِى هُرَيْرَةَ قال أَنَّ أَعْرَابِيًّا بَالَ فِي الْمَسْجِدِ فَثَارَ إِلَيْهِ النَّاسُ لِيَقَعُوا بِهِ فَقَالَ لَهُمْ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَعُوهُ وَأَهْرِيقُوا عَلَى بَوْلِهِ ذَنُوبًا مِنْ مَاءٍ أَوْ سَجْلًا مِنْ مَاءٍ فَإِنَّمَا بُعِثْتُمْ مُيَسِّرِينَ وَلَمْ تُبْعَثُوا مُعَسِّرِينَ). صحيح البخاري (۱۵/ ۳۵۹)

ترجمه:- د حضرت ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي يو باندچي په مسجد نبوي کې متيازې وکړی ، خلک ورته را پاڅيدل چې کوم ضرر ورته ورسوي نبي عليه السلام ورته وفرمايل: دا پريږدئ (چې متيازې وکړي) او واړوئ د هغه په متيازو يوه ډکه ډولچه اوبه او يايې داسې وفرمايل: چې يوه ډولچه اوبه، بيشکه تاسې اساني راوستونکي ليږل شوي ياستي سختي کوونکي نه ياستې راليږل شوي.

نبي عليه السلام په رمضان کې په دريمه شپه ددې لپاره راونه وتلو ترڅو چې تراويح يې په امت باندې فرض نشي.
په آخرت کې به نبي عليه السلام د شفاعت کبرى پر وخت الله پاک ته په سجده پريوزي الله تعالى به ورته ووايي:( يَا مُحَمَّدُ ارْفَعْ رَأْسَكَ وَقُلْ يُسْمَعْ لَكَ وَسَلْ تُعْطَ وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ فَأَقُولُ يَا رَبِّ أُمَّتِي أُمَّتِي). صحيح البخاري ت (١٨/ ٥٤٩) اى محمده! سر راپورته کړه او ووايه وبه اوريدل شي ستا خبره او وغواړه تاته به درکړل شي، شفاعت وکړه قبول به شي شفاعت ستا. نو نبي عليه السلام وايي چې زه به ورته وايم : اى زما ربه! زما امتيان زما امتيان. يعنې زما امتيانو ته ښښنه وکړه او له جهنم څخه يي وساته.

**۴- د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم عفوه او حلم :** په يو روايت کې راځي: عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ غَزَوْنَا مَعَ رَسُولِ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- غَزْوَةً قِبَلَ نَجْدٍ فَأَدْرَكَنَا رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- فِي وَادٍ كَثِيرِ الْعِضَاهِ فَنَزَلَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- تَحْتَ شَجَرَةٍ فَعَلَّقَ سَيْفَهُ بِغُصْنٍ مِنْ أَغْصَانِهَا - قَالَ - وَتَفَرَّقَ النَّاسُ فِي الْوَادِى يَسْتَظِلُّونَ بِالشَّجَرِ - قَالَ - فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ رَجُلاً أَتَانِي وَأَنَا نَائِمٌ فَأَخَذَ السَّيْفَ فَاسْتَيْقَظْتُ وَهُوَ قَائِمٌ عَلَى رَأْسِى فَلَمْ أَشْعُرْ إِلاَّ وَالسَّيْفُ صَلْتًا فِي يَدِهِ فَقَالَ لِي مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّى قَالَ قُلْتُ اللَّهُ. ثُمَّ قَالَ فِي الثَّانِيَةِ مَنْ يَمْنَعُكَ مِنِّى قَالَ قُلْتُ اللَّهُ . قَالَ فَشَامَ السَّيْفَ فَهَا هُوَ ذَا جَالِسٌ ». ثُمَّ لَمْ يَعْرِضْ لَهُ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم-. صحيح مسلم (٧/ ٦٢)
ترجمه:- د جابربن عبدالله رضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايې چې مونږ په يوه غزوه کې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د نجد طرف ته لاړو نو مونږ رسول الله صلى الله عليه وسلم په يو خوړ کې چې زياتې ونې يي درلودلې وموندلو، نبي عليه السلام د يوى ونې لاندې واړول او خپله توره يې د ونې په يوه خانګ پورې زوړنده کړه او خلک په خوړ کې سره خواره شول او دځان لپاره د ونې سيورى لټولو، نبي عليه السلام فرمايي: يو سړى راغى او زه ويده وم او توره يي راواخيسته نو زه راويښ شوم او هغه ولاړ ؤ زما په سر باندې نور زه پوه نشوم مګر توره له تيکي ويستلې د هغه په لاس کې وه او ماته يي وويل: څوک به دې خلاص کړي له ما څخه؟ ما ورته وويل: الله ! بيايي وويل: څوک به دې خلاص کړي له ما څخه ؟ ما ورته وويل: الله! هغه سړي توره په تيکې کې بيرته داخل کړه او هغه دادى ناست دى او نبي عليه السلام ورته هيڅ ونه ويل.

**۵- د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم شجاعت:**

د نبي عليه السلام د شجاعت بيلګې د غزواتو په کتابونو زياتې ذکر شوي دي. په يو حديث کې راځي: (عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَحْسَنَ النَّاسِ وَأَشْجَعَ النَّاسِ وَلَقَدْ فَزِعَ أَهْلُ الْمَدِينَةِ لَيْلَةً فَخَرَجُوا نَحْوَ الصَّوْتِ فَاسْتَقْبَلَهُمْ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَدْ اسْتَبْرَأَ الْخَبَرَ وَهُوَ عَلَى فَرَسٍ لِأَبِي طَلْحَةَ عُرْيٍ وَفِي عُنُقِهِ السَّيْفُ وَهُوَ يَقُولُ لَمْ تُرَاعُوا لَمْ تُرَاعُوا). صحيح البخاري ت (٧/ ٣٩٣)
ترجمه:- د انس رضي الله عنه څخه روايت دى هغه وايې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو خلکو ښايسته ؤ او تر ټولو خلکو زيات شجاع ؤ، يوه شپه وويريدل د مدينې منورې اوسيدونکي (ددښمن د حملې څخه) نو ټول آواز پسې ووتل نو رسول الله صلى الله عليه وسلم له دوى سره مخامخ شو په داسې حال کې چې د خبر پوره تحقيق او معلومات يي کړى ؤ او هغه د ابو طلحه رضي الله عنه په آس باندې سپور ؤ او په غاړه کې يې توره وه او داسې يي ويل: مه ويريږئ ، مه ويريږئ.

## د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د نيکمرغه ميلاد د تقرير او بيان ګټې او فائدې:

د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د ميلاد او د سيرت په بيانولو کې بې شميره ګټې او فائدې پرتې دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

**۱-** د رسول اکرم صلى الله عليه وسلم د نيکمرغه ميلاد او سيرت په بيانولو کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په پيدايش باندې خوښي او خوشحالي ښکاره کول دي او د رسول الله صلى الله عليه وسلم په ظهور باندې د خوښی

اظهار یو مطلوب کار دی . الله تعالی فرمايلي دي:( قُلْ بِفَضْلِ اللّهِ وَبِرَحْمَتِهِ فَبِذَلِكَ فَلْيَفْرَحُواْ هُوَ خَيْرٌ مِّمَّا يَجْمَعُونَ). يونس: (٥٨)

ترجمه:- ته ووايه: د الله په فضل سره او د هغه په رحمت سره، لهذا په دې سره دې دوی خوشحاله شي، دا ډېر غوره دی له هغه نه چې دوی يې جمع کوي.

په پورتني مبارک آيت کې الله تعالی مونږ ته امر کړی دی چې بايد مسلمانان دالله په رحمت باندې خوشحاله شئ، او په قرآني نص سره ثابت ده چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د الله تعالی په رحمتونو کې تر ټولو لوی او ستر رحمت دی چې نور رحمتونه له ده سره نه پرتله کيږي. الله تعالی فرمايلي دي: {وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ} الانبياء:(١٠٧).

ترجمه:- او مونږ ته نه يې استولی مگر دعالم لپاره رحمت.

امام سيوطي رحمه الله ددې آيت په تفسير کې د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه نقل کړي دي:(عن ابن عباس رضي الله عنهما فضل الله العلم ورحمته محمد صلی الله عليه و سلم). الدر المنثور (٤/ ٣٦٧)، روح المعاني (١١/ ١٤١)

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما څخه روايت دی چې هغه وايي د الله تعالی فضل علم دی او د الله رحمت هغه محمد صلی الله عليه وسلم دی.

**٢- د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم نيکمرغه ميلاد، سيرت او صفت بيانول په حقيقت کې د شعائرالله تعظيم دی.**

الله جل جلاله فرمايلي دي:(ذَلِكَ وَمَنْ يُعَظِّمْ شَعَائِرَ اللهِ فَإِنَّهَا مِنْ تَقْوَى الْقُلُوبِ).الحج: (٣٢)

ترجمه:- دغه (حکم بيان شو) او څوك چې د الله د نښو تعظيم وکړي، نو بېشکه دا د زړونو له تقویٰ څخه دی

د شعائرالله څخه ټول هغه څه مراددي چې د هغو په تعظيم او احترام سره ثواب مرتب کيږي او په بې حرمتی سره يې مسلمان گناهگاريږي لکه کعبه شريفه، مسجدونه، قرآن کريم ، حضرت محمد صلی الله عليه وسلم.

شاه ولي الله دهلوي رحمه الله وايي: (ومعظم شعائر اللّه أربعة : القرآن ، والكعبة ، والنبي ، والصلاة). حجة الله البالغة (١/ ١٥١)

**مهم او لوی شعائرالله څلور دي قرآن کريم، کعبه شريفه، نبي او لمونځ.**

رسول اکرم صلی الله عليه وسلم ذات د مسلمانانولپاره شعائرالله دی او د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د نيکمرغه ميلاد په بيانولو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم مدح او صفت بيانيږي، په هغه درود لوستل کيږي، د هغه د شخصيت فضائل بيانيږي، د هغه د غزوات او عبادات بيان په کې کيږي، چې په حقيقت کې دا د شعائرالله احترام او درناوی دی چې الله تعالی ته د تقرب او نزديکت وسيله ده ان شاء الله.

**٣- د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د نيکمرغه د ميلاد او سيرت په بيان کې پر رسول الله صلی الله عليه وسلم باندې** د درود ويلو موقع او فرصت برابريږي چې په رسول الله صلی الله عليه وسلم درود ويل په دين کې مطلوب عمل دی. الله تعالی فرمايلي دي:(إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّونَ عَلَى النَّبي، يَا أَيُّهَا الذينَ آمَنُوا صَلُّوا عَلَيه وَسَلِّمُوا تَسْليمًا).الأحزاب: (٥٦)

ترجمه:- بېشکه الله او د هغه ملايك په نبي درود وايي، ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو په دغه(نبي) باندې درود ووائې او سلام وروباندې ووائې په سلام وئلو سره.

د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د نيکمرغه ميلاد او سيرت بيانولو پروخت د هغه مبارک نوم ياديږي او کله چې د نبي عليه السلام نوم مبارک ياد شي د مجلس حاضرين وروباندې درود وايي.

علامه طحطاوي وايي چې هرکله د نبي عليه السلام مبارک نوم واخيستل شي نو درود ويل وروباندې واجب کفايي دي.

(والثاني كلما ذكر إسمه صلى الله عليه وسلم على قول الطحاوي والظاهر أنه على الكفاية لحصول المقصود وهو تعظيمه صلى الله عليه وسلم).حاشية الطحطاوي على المراقي (ص: ۱۸۱)
بل قسم واجب درود دی او هغه هغه وخت واجب دی چې کله د نبي عليه السلام مبارک نوم ياد شي دا د امام طحاوي نظر دی چې په دغه وخت کې پر رسول الله صلى الله عليه وسلم درود ويل واجب عيني دي؛ خو علامه طحطاوي وايي چې ظاهره خبره داده چې په دغه وخت کې درود ويل واجب کفايي دي ځکه مقصود حاصليږي چې هغه د رسول الله صلى الله عليه وسلم تعظيم دی.
په پيغمبر عليه السلام درود ويل د الله تعالى د امر په ځای کول دي چې دا کار عبادت دی.
۴- د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم د نيكمرغه ميلاد او سيرت په بيانولو کې رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د محبت اظهارول دي او د الله تعالى شكر اداء كول دي.
د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم د ميلاد او سيرت بيانول د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره د محبت ښکارندوينه کوي او د هغه د محبت وسيله او ذريعه ده او د رسول الله صلى الله عليه وسلم سره محبت كول دكامل ايمان نښه ده.
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: (عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ». صحيح البخاري ت (۱/ ۱۹)
ترجمه:- كامل مؤمن کيدای نشي يو کس ستاسو څخه تر دې پورې چې زه ورته زيات محبوب نشم د هغه دپلار څخه ، د هغه د بچي څخه او دټولو خلکو څخه.
د رسول الله صلى الله عليه وسلم په زمانه کې کله به چې شاعرانو د رسول الله صلى الله عليه وسلم په شعر کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم مدح او صفت بيانولو نو په دې سره به رسول الله صلى الله عليه وسلم خوشحاله کيدلو او ځينې وخت به يې د هغوی د تشويق په خاطر هغوی ته ځينې ډالۍ هم ورکولې، د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم دنيكمرغه ميلاد د بيانولو په مراسمو کې واعظان او خطيبان د رسول الله صلى الله عليه وسلم صفت بيانوي او د هغه مقام او شجاعت خلكو ته معرفي کوي او اميد لرو چې په دې سره به رسول الله صلى الله عليه وسلم پس له مرګه هم زمونږ څخه خوشحاله او راضي شي او دا به د هغه سره د مينې او محبت درلودلو ښکارندوينه وکړي.( انما الأعمال بالنيات)
همدا راز د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم د نيكمرغه ميلاد په بيانولو کې د الله تعالى د الله تعالى د نعمت شكر اداء كول دي.

د رسول الله اكرم صلى الله عليه وسلم نړۍ ته راتلل د الله تعالى لوی نعمت دی او بايد چې د الله تعالى ددې نعمت شكر اداء شي. الله تعالى فرمايلي دي: (وأَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّكَ فَحَدِّثْ). الضحى: (۱۱)
ترجمه:- او پاتې شو (نعمت) نو ته د خپل رب نعمت بيانوه.
امام بن حجر عسقلاني رحمه الله د ميلاد النبي په اړه وايي:(ماته د ميلاد النبي تخريج د هغه ثابت اصل څخه ښکاره کيږي چې د صحيحَينو په يو حديث شريف کې راځي چې کله نبي عليه السلام مدينې منورې ته ورغی، نو يهودان يې وليدل چې د عاشوراء د ورځې روژه يې نيوله، نو نبي عليه السلام له هغوی څخه (د روژې نيولو د لامل څخه) پوښتنه وکړه. هغوی ورته وويل: دا هغه ورځ ده چې الله تعالى فرعون غرق کړی دی او نجات يې ورکړی دی موسى عليه السلام ته نو مونږ ددې ورځې د شكر اداء كولو په نيت روژه نيسو، نو ددې حديث څخه د الله تعالى شكر اداء كولو عمل افاده کيږي په هغه څه باندې چې الله تعالى دهغې احسان وکړي په يوه معينه ورځ کې لکه د نعمت رسيدل او يا د عذاب

دفع کیدل او بل داچې ددې شکر اداء کول به اعاده کیږي په همدغه ورځ کې هرکال او دالله تعالی شکر اداء کول د مختلفو عباداتونو په کولو سره ترسره کیدی شي لکه سجده کول، روژه نیول، صدقه ورکول، د قرآن کریم تلاوت او بل ستر نعمت په دې ورځ کې کوم یو وي د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د ظهور څخه چې د رحمت پیغمبر دی؟، بناءً په کارده چې ددغې ورځې (د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د پیدایش د ورځ) بِعینِه تحري وشي). الحاوي للفتاوي ـ للسیوطی (۱/ ۱۸٦)البته د علماء دیوبند تحقیق دادی چې د میلاد النبي په بیانولو کې باید تعیین د وخت نه وي.

مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله په خپل مشهور مصنف المهند علی المفند چې په عقائد علماء دیوبند سره شهرت لري کې د یوسؤال په جواب کې داسې لیکلي دي:(حاشا ان یقول احد من المسلمین- فضلاً أن نقول نحن- أن ذکر ولادته الشریفة علیه الصلاة والسلام بل ذکر غبار نعاله وبول حماره مستقبح من البدعات السیئة المحرمة، فالاحوال التي لها ادنی تعلق برسول الله ، ذکرها من أحب المندوبات واعلی المستحبات عندنا-.الی أن قال: بشرط أن مقروناً بصدق النیة والاخلاص ، واعتقاد کونه داخلاً في جملة الاذکار الحسنة المندوبة غیر مقید بوقت من الأوقات اهـ) المهند علی المفند ص (۷۸-۷۹)

د مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله د جواب خلاصه داده چې داسې هیڅلکه نه ده چې یو مسلمان ووایې ـ مونږ خو پریږده چې مونږ به داسې ووایو - چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک ولادت بیانول حتی چې د رسول الله صلي الله علیه وسلم د پایزار مبارک د ګرد بیانول ، او یا د ده مبارک د خره د بولو بیان هم وي یا قبیحه دی او یا د بدو حرامو بدعاتو څخه دی! بلکې هغه احوال چې د هغې ډیر کم تعلق د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره وي ، د هغې ذکر د غوره مندوباتو څخه او د اوچتو مستحباتو څخه دی زمونږ په نزد باندې.... په دې شرط چې په ریښتني نیت او اخلاص سره وي او په دې عقیده وي چې دا د نیکو او مستحبو اذکارو څخه دي او بل داچې د وختونو څخه په کوم وخت پورې مقید نه وي.

۵- د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د نیکمرغه میلاد او سیرت په بیانولو کې د مؤمنانو د زړونو تثبیت او محکم والی دی.

الله جل جلاله په قرآن کریم کې د رسولانو او نبیانو واقعات ځای پرځای ذکر کړي دي او تر قیامت پورې به ددوی د واقعاتو ذکر کول جاري وي ترڅو ددوی په واقعاتو سره د نبي علیه السلام زړه مبارک او د مؤمنانو زړونه محکم او ثابت شي. الله جل جلاله فرمایلي دي:{وَكُلًّا نَقُصُّ عَلَيْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِ فُؤَادَكَ}.هود :( ۱۲۰) ترجمه: او مونږ تا ته د رسولانو له خبرونو څنې ټول هغه څه بیانوو چې په هغو سره مونږ ستا زړه کلکوو.

بناءً د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په نیکمرغه میلاد کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند واقعات ، غزوات، اخلاق، صفات، ددین په لاره کې د مشقتونو تحمل، د کفارو سره تعاملات کیفیت بیانیږي چې زمونږ د زړونو د محکم والي، ثبات او استقامت باعث ګرځي او همدا راز زمونږ نوی نسل د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم له سیرت څخه خبریږي او ددوی په فکري روزنه کې مثبته اغیزه کوي. په یو روایت کې راځي چې سلفو علماوو به خپل اولاد ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم غزوات په اهتمام سره ورښوول. عن اسماعیل بن محمد ابن سعد قال کان أبي یعلمنا مغازي رسول الله صلی الله علیه و سلم ویعدها علینا وسرایاه ویقول یا بني هذه مآثر آبائکم فلا تضیعوا ذکرها) الجامع لأخلاق الراوي للخطیب البغدادي (۲ /۱۹۵)ترجمه: له اسماعیل بن محمد بن سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي مونږ ته به خپل پلار ( محمد بن سعد بن ابي وقاص) داسې د رسول الله صل الله علیه وسلم غزوات او سرایاوې راښودلې او په مونږ به یی شمارلې او مونږ ته به یي ویل: ای بچیه! دا ستاسو د پلرونو ارزښتونه او مناقب دي نو ددې یادول مه ضائع کوئ.

البته دا ضروري ده چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم نیکمرغه میلاد ورځ پر نبي علیه السلام باندې په دردو ویل، د هغه د اخلاقو په بیانولو، په مغازیو کې دهغه د شجاعت په بیانولو، د مشکلاتو پر وخت د هغه د صبر او استقامت، په دنیوي او اخروي کارونو د رسول الله صلی الله علیه وسلم داتباع په اهمیت پورې تړاو ولري او درسول اکرم صلی الله علیه وسلم د میلاد د بیانونو پر وخت د هر ډول کمزورو روایاتو بیانولو، د اسراف، غیر شرعي کړنو، د ښځو او سړیو ترمنځ د اختلاط او نورو منکراتو څخه باید ځان وساتل شي.

امام ابن حجر عسقلاني په دې اړه وایي:( وأما ما یعمل فیه فینبغي أن یقتصر فیه علی ما یفهم الشکر لله تعالی من نحو ما تقدم ذکره من التلاوة والإطعام والصدقة وإنشاد شيء من المدائح النبویة والزهدیة المحرکة للقلوب إلی فعل الخیر والعمل للآخرة ، وأما ما یتبع ذلك من السماع واللهو وغیر ذلك فینبغي أن یقال ما کان من ذلك مباحاً بحیث یقتضي السرور بذلك الیوم لا بأس بإلحاقه به ، وما کان حراماً أو مکروهاً فیمنع ، وکذا ما کان خلاف الأولی انتهی). الحاوي للفتاوي ـ للسیوطی (۱/ ۱۸۸)

ترجمه:- او هغه کارونه چې په دې ورځ (میلاد النبي ورځ) کې کیږي په کارده چې دا یواځې په هغو کارونو پورې منحصر شي چې له هغې څخه د الله تعالی د شکر اداء کول معلومیږي لکه مخکې چې تیرشو د قرآن کریم تلاوت، ډوډۍ او صدقات ورکول، او دنبوي مدحو او د هغه د زهد بیانول چې د زړونو تحریک کوونکي وي نیکو کارونو ته او د آخرت کارونو ته او هغه څه چې په دې پسې کیږي لکه سماع او لهو او داسې نور، نو په کار ده چې وویل شي هغه چې له دغو کارونو څخه مباح دي هغه داسې چې د خوشحالۍ مقتضي وي په دغه ورځ کې باک نشته چې دغه کارونه په مباحو پورې ملحق شي او هغه څه چې حرام دي او یا مکروه دي له هغې څخه دې منع وشي او همدارنگه هغه کارونه چې خلاف اولی دي.